# الدُّنْيَا مَتَاعٌ، وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ». «دنیا د خوند اخیستلو ځیز دی، او د دنیا تر ټولو غوره شی چې خوند ورڅخه اخیستل کیږي؛ نېک صالحه مېرمن ده

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «الدُّنْيَا مَتَاعٌ، وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ». «دنیا د خوند اخیستلو ځیز دی، او د دنیا تر ټولو غوره شی چې خوند ورڅخه اخیستل کیږي؛ نېک صالحه مېرمن ده».

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې دنیا او څه چې په دنیا کې دي هغه څه دي چې د یو څه وخت لپاره ترې خوند اخیستل کیږي بیا له منځه ځي او دا چې تر ټولو غوره متاع یې صالحه مېرمن ده، کله چې ورته وګوري خوشحالیږي، او کله چې ورته امر وکړي اطاعت یې کوي، او کله چې ترې لرې وي نو په خپل ځان او د هغه په مال کې ترې ساتنه کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5794